مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: پروفيسور دکتور اورهان يازجي
ژباړن: سيلانی

۲۰۲۶/۰۸/۱۱

# د افغان-انګرېز جګړه (۱۹۱۹)

# او

## د راولپنډۍ او مسوري تړونونه

کله چي انګلستان د افغانستان د خپلواکۍ غوښتنو ته غوږ و نه نيوه، امان‌الله خان هم د عامه افکارو په هڅونه يو فرمان صادر کړ، څو افغان ولس او په ځانګړي ډول د سرحدي سيمو مېشت قومونه د انګرېزانو پر وړاندې مبارزې ته راوبولي. په دغه فرمان کي راغلي و: «په هند کي لويه ګډوډي روانه ده. نږدې ټول هندوان او مسلمانان پر خپلو عقايدو ټينګ ولاړ دي... خو د خپل دين او عزت له امله، سره له دې چي عاجزي او زغم کوي، د ظلم او هر ډول بې‌عدالتۍ پر وړاندي په خورا خواشينوونکي حالت کي دي... له همدې امله جهاد ته چمتو شئ او انګرېزان او ظالمان په خپلو نفرتونو او ښېراوو کي وځپئ.»

په دې توګه امان‌الله خان خلک جهاد ته راوبلل.[15] له دې سمدستي وروسته اعلان وشو چي د ناڅاپي يريد له لارې د دښمن د ماتولو او د افغانستان د خپلواکۍ د منلو لپاره، که اړتيا پيښه شي، پر انګلستان به د جګړې اعلان وشي.[16] په لنډه موده کي د افغان پوځ د خوراکي توکو او پوځي تجهيزاتو چمتووالی بشپړ شو او پوځ په درېيو اصلي برخو ووېشل شو. د جوړ شوي پلان له مخې، د سپه‌سالار صالح محمد خان تر قوماندې لاندې لومړۍ ډله به د جلال‌آباد له لورې د هند سرحد ته ښکته کېده او هلته به يې د مومندو او اپرېدو قبايلو ملاتړ هم ترلاسه کاوه او بيا به يې يريد پيل کاوه.

دويمه ډله چي د عبدالقُدوس خان تر مشرۍ لاندې وه، د کندهار له لارې به خوځېده او له سيمې څخه د راټولو شويو رضاکارانو په ملتيا به د انګرېزانو پر سرحد ځای پر ځای کېده. درېيمه ډله چي د سردار محمد نادر خان تر قوماندې لاندې وه، د جبهې له منځنۍ برخې، يعني د خوست له لارې، به له سرحده اوښتله او د خنجر په څېر به د انګرېزانو په اړخ کي ورننوته.[17] پلان داسي جوړ شوی و چي دغه درې واړه ډلي په يوه وخت سرحد ته ورسېږي. له رسېدو وروسته به يې هلته له قبايلو سره يوځای کېدل او د انګرېزانو پر مستحکمو پوځي مورچلو به يې ناڅاپي يريد کاوه، ترڅو هغوی غافلګيره کړي.[18]

خو د جلال‌آباد د جبهې قوماندان صالح محمد خان، له چټک مزل وروسته سرحد ته ورسېد او د نورو ډلو له رسېدو وړاندې يې د ۱۹۱۹ کال د مي په ۴مه د خيبر درې هغه مستحکم پوځي ځايونه ونيول چي د انګرېزانو تر کنټرول لاندې و. په دې توګه د افغان-انګرېز جګړه په عملي ډول پيل شوه.[19] د صالح محمد خان له خوا، د نورو پوځي ډلو له رسېدو وړاندې، پر انګرېزانو يريد د دې لامل شو چي د جګړې طرحه له ناکامۍ سره مخ شي. د همدې تاکتيکي تېروتني له امله بريتانوي حکومت سمدستي اقدام وکړ او سرحد ته يې تازه ځواکونه واستول.

له بلې خوا، د سرحدي سيمو قبايلو ته په لويه کچه پيسې ووېشل شوې، څو د افغان پوځ له ليکو سره د هغوی د يوځای کېدو مخه ونيول شي. په دې جبهه کي افغانانو ۱۴ د پلي پوځ کنډکونه، يو مخکښ کنډک، يو د توپخانې غونډ او ۴۸ توپونه درلودل.[20] په مقابل کي، انګرېزانو ۲۲ د پلي پوځ کنډکونه، يو مخکښ کنډک، ۶ د سپرو پوځ غونډونه، ۲ د توپخانې غونډونه، د استحکاماتو او ماينونو يوه قطعه، ۶۶ توپونه او ۱۰۴ ماشين‌دارې درلودې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

سربېره پر دې، د برېټانوي پوځ ملاتړ هغو کوچنيو پوځي واحدونو هم کاوه چې د راولپنډۍ، پېښور او خيبر سيمو د داخلي امنيت د ټينګښت دنده يې پر غاړه درلوده.[21] کله چې مومندو او اپرېدو قبايلو وليدل چې د انګرېزانو مرستندويه ځواکونه د شمال پر لور پرمختګ کوي، هغوی ونه توانېدل چې په عمل لاس پورې کړي. په دې توګه افغان پوځ، چې تمه يې درلوده د سوېلي سيمو له قبايلو څخه ملاتړ ترلاسه کړي، دغه فرصت له لاسه ورکړ. د انګرېزانو د ځواکونو له اټکل څخه مخکې سرحد ته د رسېدو په پايله کې، د صالح محمد خان ځواکونه د توپخانې تر سخت اور لاندې راغلل او هغه اړ شو خپل ځواکونه شاته اوباسي.
په همدې وخت کې انګرېزانو د لومړي ځل لپاره د افغان جګړو په ډګر کې شاهي هوايي ځواک هم په عملياتو کې شامل کړ او د ۲۴ جنګي الوتکو په وسيله يې د افغان ځواکونو پر مورچلو بمبار وکړ.
د مې د ۲۳مې او ۲۴مې په ورځو ترسره شوو هوايي بريدونو کې افغان ځواکونو د الوتکو د درنو ماشيندارو او بمبارۍ پر وړاندې نور مقاومت ونه شو کولی، نو له همدې امله تر جلالآباد پورې شاته ولاړل او انګرېزانو ډکه ونيوله.[22] په همدې ورځ يوه برېټانوي جنګي الوتکه تر کابل پورې ورسېده او د ښار پر مستحکمو پوځي ځايونو يې بمونه وورول.[23] د صالح محمد خان تر مشرۍ لاندې د لومړۍ ډلې له شاتګ سره افغان پوځ په دې جبهه کې له ناکامۍ سره مخ شول، خو په بله جبهه کې د محمد نادر خان د احتياط او تدبير له امله خپله لومړنۍ بريا ترلاسه کړه.
محمد نادر خان د مې په ۲۳مه د وزيرو د ملاتړ په ترلاسه کولو له سرحده واوښت، د اورګاډي پټلۍ يې وتړله او سيمې ته يې د انګرېزانو د ځواکونو او اکمالاتو لېږد ودراوه.
د مې په ۲۴مه يې هغه شپږ لوی توپونه، چې په ډېرې سختۍ يې له غرونو راکوز کړي وو، له سرحده واړول او د «تل» کلا مخې ته يې ځای پر ځای کړل؛ هغه کلا چې د انګرېزانو پوځي قرارګاه په کې وه. وروسته يې سيمه د توپخانې تر سخت اور لاندې ونيوله. انګرېزانو په دې جګړه کې درانه تلفات ورکړل او شاتګ ته اړ شول.[24] د عبدالقُدوس خان تر مشرۍ لاندې هغه ډله چې د کندهار له لارې خوځېدلې وه، په لاره کې د يو شمېر ستونزو او نامساعدو شرايطو له امله ونه توانېده چې پر ټاکلي وخت جبهې ته ورسېږي.
د افغان-انګرېز دريېمه جګړه، چې په يوه جبهه کې انګرېزانو او په بله جبهه کې افغانانو برلاسی درلود، ورو ورو په يوه مورچلي جګړه واوښته. په دې پړاو کې دواړه لوري تر ډېره د خپلو موجودو مورچلو په ساتلو او د مقابل لوري د پرمختګ په مخنيوي بوخت وو او له دې څخه وړاندې يې د پام وړ پرمختګ ونه شو کولی. په داسې حال کې چې پر سرحد نښتې لا رواني وې، په کابل کې د برېټانوي استازي د هڅو په پايله کې د ۱۹۱۹ کال د جون په ۳مه د دواړو لورو ترمنځ اوربند اعلان شو او پرېکړه وشوه چې د سولې خبرې پيل شي.[25]
د اوربند د تړون له مخې:
۱- افغان پوځيان به له خپلو اوسنيو ځايونو څخه شل ميله شاته کېږي.
۲- انګرېزان به له خپلو اوسنيو مورچلو څخه نور وړاندې نه ځي.
۳- برېټانوي الوتکې به بمبارۍ ته د پای ټکی ږدي او په درنو ماشيندارو وسلو به پر افغان ځواکونو بريد نه کوي.
۴- که کومه برېټانوي الوتکه يا پيلوټ د افغانستان په خاوره کې راولوېږي، په خوندي ډول به برېټانوي لوري ته وسپارل شي.[26]
د افغان-انګريز د سولې خبرې اترې: د راولپنډۍ او مسوري تړونونه
هغه فوقالعاده شرايط چې دواړه لوري ورسره مخ و، د دې لامل شول چې جګړه د يوې مياشتې په څېر په لنډه موده کې پای ته ورسېږي. په ځانګړي ډول د افغان لوري په پوځ کې موجود کشمکشونه او بېنظمي د درک وړ وه. سربېره پر دې، د سرحدي قبايلو راپاڅول هم چندان ګټه نه درلوده، ځکه د برېټانيا شاهي هوايي ځواک د مشخصو هدفونو له په پام کې نيولو پرته پر سرحدي کربښه بمونه ورول. دغه وضعيت د ډېرو انساني تلفاتو په معنی و.
له بلې خوا، انګرېزان تازه له نړيوالې جګړې څخه راوتلي و او په ځانګړي ډول په هند کې د هغوی پر ضد پراخ مخالفت پيل شوی و. له همدې امله هغوی نه غوښتل چې له يوې خوا په هند کې له مخالفتونو سره لاس او ګرېوان وي او له بلې خوا له افغانستان سره د جګړې خطر هم پر ځان ومني.
امانالله خان د ۱۹۱۹ کال د جون په ۱۱مه د هند وايسرای ته په استولي ليک کې وړانديز وکړ، چې دواړه لوري دې په راولپنډۍ کې سره راټول شي او د خپلمنځيو اختلافاتو د حل لپاره دې د سولې يو تړون لاسليک کړي.۲۷ وايسرای د امانالله خان دغه وړانديز ومانه. ورپسې د افغانستان په استازيتوب د کورنيو چارو وزير علي احمد خان او د هند د حکومت په استازيتوب د بهرنيو چارو وزير سر هملټن ګرېنټ په مشرۍ پلاوي د ۱۹۱۹ کال د اګست په ۸مه په راولپنډۍ کې سره وکتل.
د دواړو لورو ترمنځ خبرې اترې نږدې يوه مياشت رواني وې او په ډېرو مواردو کې له سختو بحثونو او اختلافونو سره مخ و. په پای کې دواړو خواوو پر يوه پنځه مادهييز متن هوکړه وکړه، چې ټاکل شوې وه وروسته په رسمي ډول لاسليک شي. د دغې هوکړې له مخې:
۱- د دې تړون د لاسليک له نېټې وروسته به د انګرېز حکومت او د افغانستان د حکومت ترمنځ سوله ټينګه وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ

۲- د انګرېز حکومت او د افغانستان د حکومت ترمنځ د جګړې د رامنځته شوو شرایطو له امله، هغه مهمات او پوځي تجهیزات چې د پخواني امیر په وخت کې د انګرېز حکومت له خوا افغانستان ته لېږل کېدل، له دې وروسته به یې د انتقال اجازه نه ورکول کېږي.
۳- هغه پاتې او ځنډېدلي مالي تخصیصات چې د هند حکومت باید پخواني امیر ته ورکړي وی، ضبط به شي او اوسني امیر ته به هېڅ ډول مالي تخصیص نه ورکول کېږي.
۴- د انګرېز حکومت غواړي چې د انګرېز حکومت د دوستۍ د ترلاسه کولو لپاره د افغان حکومت له خوا د تضمین په ورکولو سره، د انګلستان او افغانستان ترمنځ هغه پخوانۍ دوستي چې له ډېرې مودې راهیسې موجوده وه، بېرته ټینګه کړي. له همدې امله، انګرېز حکومت چمتو دی چې شپږ میاشتې وروسته د افغان سفارتي پلاوي له یوه بل هیئت سره د دواړو حکومتونو ترمنځ د دوستۍ د تړون د لاسلیک لپاره خبرې اترې وکړي.
۵- افغان حکومت هغه د هند او افغانستان ترمنځ پوله مني چې مرحوم امیر منلې وه. سربېره پر دې، د خیبر لوېدیځ لوري ته د پولې هغه برخه چې د افغانانو وروستی برید په کې شوی و او تر اوسه لا په رسمي ډول نه وه ټاکل شوې، د یوه انګرېز کمېسیون له خوا به تحدید او مشخصه شي او افغان حکومت به د دغه انګرېز کمېسیون پرېکړه مني.۲۸
د دواړو لورو ترمنځ د دې هوکړې په پایله کې انګرېز حکومت په عملي ډول افغان حکومت په رسمیت و پېژانده. دا چې افغان حکومت به له انګرېزانو څخه نور هېڅ ډول مالي تخصیص نه ترلاسه کوي، تر یوه بریده د افغانستان د خپلواکۍ نښه هم ګڼل کېده. خو په دغه تړون کې داسې کومه څرګنده ماده نه وه شامله شوې چې افغانستان به په بهرنیو چارو کې په بشپړ ډول خپلواک وي. افغان پلاوی د تړون له لاسلیک وروسته کابل ته ستون شو، او انګرېزي ځواکونو د اګست په ۱۴مه «یني قلعه» او د سپتمبر په ۱۳مه «ډکه» تخلیه کړه.۲۹
له دې نېټې وروسته د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې د راتلونکو خبرو اترو تر ترسره کېدو پورې، تر ټولو ټیټې کچې ته راکوزې شوې. په همدې موده کې د انګرېزانو په ملاتړ د یوناني پوځ ازمیر ته ننوتل او هلته رامنځته شوې خونړۍ پېښې په هند او افغانستان کې پراخ غبرګون او سخت قهر راوپاراوه. له عثماني دولت سره د جګړې په موخه، د شاوخوا ۱۷ زره رضاکارانو یوه ډله افغانستان ته راغله، چې ډېری غړي یې په هند کې د خلافت د غورځنګ پلویان و. د دغې ډلې سفر انګرېزان سخت اندېښمن کړل، ځکه هغوی پوهېدل چې په هند کې د دوی پر ضد هر ډول کوچنۍ حرکت هم په چټکۍ سره پراخېدلی او څپه په څپه نورو سیمو ته رسېدلی شي. له همدې امله، انګرېزانو هڅه کوله چې له یوناني پوځ سره خپل ملاتړ تر خپلې وسې پټ وساتي.
د افغانستان حکومت په هغه وخت کې چې د انګرېزانو پر وړاندې په بېلابېلو جبهو کې مخالفتونه مخ پر زیاتېدو و، له دې وضعیت څخه د یوه مناسب فرصت په توګه ګټه واخیسته او پرېکړه یې وکړه چې له نورو دولتونو سره هم خبرې اترې پیل کړي. په بخارا کې یې خپل استازی محمد ولي خان د دې لپاره واستاوه چې د افغانستان خپلواکي د نورو هېوادونو له خوا په رسمیت وپېژندل شي. نوموړی د روسیې په ګډون ترکیې، ایران، جرمني، فرانسې، انګلستان او امریکا ته د همدې موخې لپاره واستول شو.
محمد ولي خان له بخارا څخه روان شو او لومړی مسکو ته ولاړ، هلته یې په ډېر درناوي او تود هرکلي سره استقبال وشو. افغان استازي د ولادیمیر ایلیچ لینن په ګډون د شوروي دولت له لوړپوړو چارواکو سره وکتل او د دواړو هېوادونو ترمنځ یې د دوستۍ او همکارۍ د تړون پر کولو هوکړه وکړه. لږه موده وروسته، د مسکو د حکومت په استازیتوب روسي استازی براوین کابل ته راغی او اعلان یې وکړ چې روسیې د افغانستان خپلواکي په رسمیت پېژندلې ده. په دې توګه، شوروي اتحاد لومړنی هېواد شو چې د افغانستان خپلواکي یې په رسمیت وپېژندله.۳۰
د افغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ د اړیکو د ټینګېدو او د بلشویکانو له خوا د افغان حکومت د په رسمیت پېژندلو خبرونه په لندن کې پراخ انعکاس وموند. انګرېز حکومت بې له ځنډه اقدام وکړ او د یوه قطعي تړون د لاسلیکولو په موخه یې افغان پلاوی مسوري ته د خبرو اترو لپاره ور وبلل. د بهرنیو چارو وزیر محمود طرزي په مشرۍ افغان پلاوی د ۱۹۲۰ کال په اپرېل کې مسوري ته ورسېدل. مسوري د همالیا غرونو په لمنو کې پروت یو تفریحي او د اوړي ښار و. په دغه پلاوي کې د طرزي تر څنګ د سوداګرۍ وزیر غلام محمد خان، په ډیلي کې د افغانستان استازی غلام صدیق خان چرخي او عبد الهادي داوي هم شامل و. داوي د «سراجالاخبار» له لیکوالانو څخه و او د انګرېزانو له سرسختو مخالفانو څخه شمېرل کېده. د انګرېز پلاوي مشري بیا د هند د بهرنیو چارو سکرتر سر هنري ډابس کوله.۳۱
په راولپنډۍ کې د اوربند د تړون له لاسلیک وروسته، د دواړو هېوادونو پلاوي د یوه دایمي تړون د لاسلیکولو په موخه سره کښېناستل. د اپرېل له ۱۷مې څخه د جولای تر ۱۸مې پورې د نږدې درې میاشتو په اوږدو کې خبرې اترې له سختو بحثونو او اختلافونو سره رواني وې. په پای کې دواړو لورو، د سرحدي قبایلو د وضعیت له مسئلې پرته، نږدې په ټولو موضوعاتو هوکړې ته ورسېدل. خو کله چې د سرحدي قبایلو مسئله حل نه شوه، خبرې اترې ودرېدې.
امانالله خان چې له انګرېزانو سره د خبرو اترو د دوام پلوی و، د ۱۹۲۰ کال په اکتوبر کې د هند وایسرای ته یو لیک واستاوه او وړاندیز یې وکړ چې د مذاکراتو د دوام لپاره کابل ته یو پلاوی واستوي. په همدې وخت کې انګرېز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

حکومت په کابل کې د هندي مسلمانانو او ترکانو له فعالیتونو او همدارنګه د هغه روسي سفارتي پلاوي له حضور او فعالیتونو څخه سخت اندېښمن و چې لا هم په کابل کې خپلو خبرو اترو ته دوام ورکاوه.
له همدې امله انګرېزانو د امیر دغه وړاندیز په ډېرې خوښۍ ومانه. د سر هنري ډابس په مشرۍ انګرېز پلاوی د ۱۹۲۱ کال په جنوري کې کابل ته ورسېدل او خبرې اترې یو ځل بیا پیل شوې.۳۳ انګرېز پلاوي په لومړي سر کې تر دې چې له افغانستان سره د دوستۍ د یوه تړون لاسلیکولو ته ډېره پاملرنه وکړي، زیاتره هڅه یې دا وه چې له نورو دولتونو سره د افغانستان د اړیکو د پراختیا مخه ونیسي.
په مقابل کې انګرېزانو څرګنده کړه چې دوی کولی شي افغانستان ته په مالي او تخنیکي چارو کې د لا خپلواک عمل کولو حق ومني. محمود طرزي د انګرېز پلاوي پر دې وړاندیز سخت غبرګون وښود. هغه څرګنده کړه چې دواړه پلاوي له نورو دولتونو سره د افغانستان د اړیکو د موضوع د څېړلو لپاره نه دي سره راټول شوي، بلکې د انګرېز-افغان د اړیکو او د سرحدي مسئلې د حل په موخه یې غونډه کړې ده.۳۴
د افغان لوري له دې څرګند دریځ وروسته، دواړو خواوو یو ځل بیا د دواړو هېوادونو ترمنځ شته موضوعاتو ته پاملرنه واړوله او په بخارا او ترکستان کې یې د شوروي روسیې نوي فعالیتونه هم په پام کې ونیول. په پایله کې، دواړه لوري هوکړې ته ورسېدل چې د پخوا په څېر به د دواړو هېوادونو ترمنځ په مالي او تخنیکي برخو کې همکاري دوام ولري، په ځانګړې ډول به له انګلستان څخه افغانستان ته د وسلو، مهماتو او پوځي تجهیزاتو د صادرولو اجازه ورکول کېږي. یوازې د دواړو هېوادونو ترمنځ د پولې او د هغې غاړو پر مېشتو قبایلو د مسئلې په اړه هېڅ پرمختګ ونه شو.

نوټ: د دویمې برخې پای، نورې برخې هم لري.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ